محمد هارون خپل شعشعي


۲۸ اکتبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۸

**۳۴- جمع او جمع الجمع :**

جمع چې هغه ته محوه هم وايي، په تصوف او عرفان کې هغه مقام دئ، چې سالِک د محبوب وصال ته ورسيږي . په دې مقام کې دعرفان لاروی خپل ځان هېرېږي او بېله خدايه بل هيڅ نه ويني۱ . د ځينو عارفانو په نظر، جمع الجع چې صحو هم ورته وايي، هغه مقام دئ، چې سالِک يې د جمعي تر مقام وروسته ، تر لاسه کيي . په دې مقام کې سالِک داسي  حال مومي، چې ګوندي په يوه سترګه حق او په بله سترګه خلګ يا جهان ګوري؛ لکه د انبياوو مقام ۲. د تصوف او عرفان ځينو نورو وتلو شيخانو جمع الجمع هغه مقام بللئ  دئ، چې سالِک هغه ته په رسېدو سره خپله پوهه او شعور له لاسه ورکيي؛او ځان بې هر ډول توپيره د خدای له هستی سره نغښتی ګڼي؛ دې حالت ته مُطلق بيوالی هم وايي۳ .

زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، د جمعي او جمع الجمعي عرفاني مقامونه د وصلت او وحدت په نومو يادکړي دي . ګران لوستونکي کولای سي د مخلص دا عرفاني نظريې تر دغو عنوانو لاندي ولولي .

**دنور مالومات دپاره  وګورئ : تخلقوا باخلاق الله، موتوا قبل** ان تموت، **هستي او نيستي ، فنا او بقأ، نفي او اثبات،** وحدت  او  کثرت، وحدت الوجود او وحدت الشهود، سکونت .

**لمنليکونه**

۱  نخشبی ۱۵ .

۲ نيرومند محقق ۲۳ .
3 Ansāri 36.

**۳۵- جمعيت اوتَفَرُقه :**

جمعيت په لُغت کي يوځای والي، يووالي، اُلفت او د خلګو يوې ډلي ته وايي[۱] . تفرقه د جمعيت پر خلاف، د بېلولو، جلا کولو، خپرولو او پاشلو په مانا ده[۲] . په عرفاني ادبياتو کي، د جمعيت اصطلاح د امفهوم لري، چي د عرفاني سير او سلوک لاروی له هر ډول اړيکو او حجابو څخه زړه پری کي؛ او يوازي د خپل رينتني محبوب په مينه کي ډوب سي . عارفان وايي، د سالک زړه تر هغه مهاله د الهي ذات په انوارو نه روښانه کيږي، چي د دونيا او آخرت له بېلابېلو بتانو څخه ونه ژغورل سي . د نس، شهوت، اولاد، مال ومنال ، ظاهري تجمل، جاه و جلال او لوی ځاني ښامار ( نَفْس ) مينه، هر يو په خپل وار سره واقعي محبوب ته د رسېدو په لار کي د سالک بېلابېلي تفرقي يا حجابونه دي . وتلئ عرفاني صاحب نظر- عزيزالدين بن محمد نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) په خپل مشهور اثر (کشف الحقايق ) کي د تفرقي په باب ليکي : « هر څوک چي په خپل حالت او مقام کي راضي نه يي (وي)، که ناپوه يي که عالِم؛ که بېوزله يي که شتمن؛ که رعيت يي که پاچا ټول د خپلي غوښتني او طلب په سَوَب له تفرقي او پاشلتيا سره مخامخ دي[۳]. »

زموږ بينا دل عارف، علي محمد مخلص، هم په خپله عارفانه شاعرۍ کي، دونيا او د هغي ټولي مادي ښېګڼي، دسالک د عرفاني مأموريت په وړاندي، خنډونه او موانع ګڼي . د هغه د د يوان په يوه غزله کي په دې اړه، داسي راغلي دي :

جمعيت د زړه، نادان له مـاله غواړي
تل د زړه د پرېشانی يي سبب مال دئ
د نيمګړي چار نيمګړی پوره نشـي
تروبه څرنګ جمعيت غواړي محـال دئ
جمعيت دئ ددنيا په ترک کښي قطعي
چي له ماله جمعيت غواړي بقـال دئ

مخلص، دځان د نيستی او د حق د هستی په باب ذکر، فکر او حيرت د عرفاني سالِک او مُريد د جمعيت يوازنی لار بولي :

جمعيت به د زړه بيامومي له خدايـــه
چي مشغول په ذکر و فکر د پاس انفاس دئ

***

جمعيت د زړه په ذکر کښي ځرګند دئ
په غفلت کښي تفرقه ګورم بي قيـاسه

په يوه بله غزله کي د زړه جمعيت، د قرآني لارښوونو په رڼا کي، يوازي د حق تعالی په ذکر و فکر کي بولي :

جمعيت د حق په ذکر کښي دئ قطعي
دا خبره په قرآن کښي ده رقمـه

دا خفي ذکر صحت د رنځور زړه دئ
په دوام ذکر زړه خلاص کړه له المه

لمنلیکونه

۱ عمید ۱: ۸۲۸ .

۲ عمید ۱: ۷۰۵ .

۳ نسفی، کشف الحقایق ۱۰۴- ۱۰۵.

**۳۶- جوهر او عَرَض :**

د جوهر او عَرَض اصطلاحات، پر حکمت او فلسفي سربېره، د اسلامي تصوف او عرفان په بېلابېلو آثارو کي هم خورا ډېر تر سترګو کیږي . دلته د هر یوه په اړه څو لنډي خبري کوو .

الف ) جوهر( د « ج » او « هـ » په زْوَر) :

« جوهر » پر خپل ذات ولاړ ماهیت دئ، چي د خپل سته والي دپاره موضوع ته اړتیا نه لري؛ خو ممکنه ده، محل ته اړتیا ولري . « جوهر » د « عَرَض » پر خلاف د یوه شي حقیقت او ذات دئ . « جوهر » پینځه ډوله دئ : ماده یا هَیولا، صورت، جسم، عقل او نفس . مادي، صورت او جسم ته غیر مجرد جوهرونه وایي . نفس په خپل ذات کي خپلواک؛ مګر په فعل کي و مادي ته اړتیا لري . عقل هم په ذات کي، مجرد دئ هم په فعل کي[۱] .

ب ) عَرَض ( د « ع » او « ر» په زْوَر) :

عَرَض په لغت کي متاع، کالو، مال، ناجوړی، ناسازی یا هر هغه حالت ته ویل کیږي، چي انسان ته ور پېښیږي؛ خو بقأ او پایښت و نه لري یا هر هغه څه چي سته والی او بقأ یي پر نورو شیانو تکیه ولري[۲] . په فلسفه او عرفان کي « عَرَض » پر غیر ولاړ ماهیت دئ ، چي د خپل وجود په پړاو کي موضوع ته اړتیا لري . « عَرَض » د جوهر پر خلاف ذاتي نه دئ . د « عَرَض » مفهوم د هغه د موضوع په عارض والي یا نه پایښت کي نغښتی دئ . و یوه شي ته د بل شي عارض والی د هغه شي د ماهیت تر څېرني وروسته مالومیږي . عر ض نه ( نهه) ډوله دئ،چي له جوهر سره لس کیږي . د عَرَض نه ډولونه دادي : څونه والی ( کمیت )، څونه والی ( کیفیت )، اضافه، وضع ( حالت)، په مکان کي سته والی، په زمان کي سته والی، ملکیت، فعل، انفعال . د مشایي فیلسوفانو په عقیده، له نو عَرَضو څخه په څلورو عَرَضو کي، دغه خوځښتونه یا حرکتونه پیدا کیږي : کمي حرکت، کیفي حرکت، مکاني حرکت او وضعي حرکت[۳] .

زموږ نکته دان عارف شاعر، علي محمد مخلص، په خپل عرفاني دیوان کي، د حق تعالی هستي له جوهر سره تشبیه کیي( کوي)؛ څکه دا هستي ابدي او ازلي، ناپایه او نامحدوده، بې بدلونه او بې اوښتونه، بې ساري او بې مثله ده . د ا بې نظیره هستي، دخپل وجود او پایښت دپاره نه یوازي هیڅ شي ته اړه نه ده، بلکي د کایناتو ټول موجودات او مخلوقات په دې هستی ژوندي دي . د انسان په ګډون د کایناتو ګردو موجوداتو ته له دې امله د عَرَضو په سترګه کتل کیږي، چي د خپل ژوند او ژواک دپاره بلي هستی ته اړتیا لري . عَرَضونه د هغه خس او خاشاک، څکونو او کوبیو په څېر دي، چي تل د دریاب له مستو او څپانده موجوسره لاس او ګرېوان دي؛ او د هستی ناپایه و بې مثله بحر یي په خپله خوښه دوري هوري ځغلیي . د محیط بحر هره شیبه په خپلو

همېشنييو خو رنګارنګو موجو سره د اوبو پر مخ ځګو او کوبيبو ته نوي نوي بڼه او نوی او نوی کيفيت وربخښي . همدا ژوره عرفاني او فلسفي مسأله د مخلص په يوه غزله کي داسي بيان سوې ده :

حق جوهر ته يي عَرَض يې!
دی کاغذ ته پرې خضيبه
عَرَض مانـند د خس شه
جوهر ذات بحـر مجيبه

لمنليکونه

۱ وردی، « تعليقات، » زبدة الحقايق ۱۲۷ .
۲ عميد ۳ : ۱۷۰۹ .
۳ وردی، « تعليقات، » زبدة الحقايق ۱۲۳.